د ګډوډۍ (فتنو) پر مهال عبادت کول داسې دي لکه زما لور ته هجرت کول

له معقل بن يسار رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «د ګډوډۍ (فتنو) پر مهال عبادت کول داسې دي لکه زما لور ته هجرت کول».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

نبي ﷺ د هرج (ګډوډۍ)، فتنو، وژنو او د خلکو د حالاتو د ګډوډېدو په زمانه کې خلکو ته د عبادت کولو او پرې د ټینګ پاتې کېدلو لارښوونه کړې ده، او دا يې بيان کړي چې د دغه وخت عبادت داسې اجر لري لکه څوک چې رسول الله ﷺ ته هجرت وکړي، ځکه چې خلک په داسې وختونو کې له عبادت نه غافله وي، تړې بوخت وي، او يواځې لږ شمېر کسانو ورته ځان فارغ کړی وي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5020